عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپرېدل: عمومي
۶ جون ۲۰۱۸
اصل: انګليسي

| عمومي اسامبله | د امنيت شورا | |
|---|---|---|
| دوه اوپايمه ناسته | درې اوپايم کال | د اجنډا ۳۹ ماده |

د افغانستان حالت

# د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې

## د عمومي منشي راپور

### لومړی. پېژندنه

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پرېکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پرېکړه ليک په تعقيب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د وضعيت په اړه راپو ر ورکړي، وړاندې کيږي.

۲. زما د مخکني راپور (A/72/768-S/2018/165) له خپرېدو راهيسې، چې د ۲۰۱۸ کال د فبروري پر ۲۷ خپور شو، دغه راپور د سياسي، بشري، پرمختيايي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعاليتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دويم. اړوند پرمختګونه

۳. د ولسمشريزې ماڼۍ او د بلخ ولايت د پخواني والي محمد عطا نور ترمنځ کشاله، د مارچ پر ۲۲ نېټه د ښاغلي نور له خوا د ولايت په پرېښودو تمامه شوه. د راتلونکو ټاکنو په تمه، يو شمير سياسي خوځښتونه او ګوندونه سره يو ځای شول، څو د ټاکنيز سيستم د بدلون لپاره لابي وکړي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر ۲۰ مه نوې نېټه اعلان کړه، پر کومه به چې پارلماني او د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې ترسره شي، او په ملي کچه يې د رايه ورکوونکي د ثبت پروسه په لار واچوله. ټاکنيزې تيارۍ د سوکه پرېکړې کولو او يو لړ تاوتريخجنو بريدونو له امله چې د ټاکنو اړوند تاسيسات يې په نښه کړي وو، پيکه شوي وو، چې له امله يې د رايه ورکوونکو د ثبت کمپاين کم رنګه او په ټاکنيزه پروسه عامه باور کمزوری شوي. ولسمشر محمد اشرف غني د سولې او امنيتي همکارۍ د کابل پروسې په دويمه ناسته کې له طالبانو سره د مستقيمو خبرو اترو لپاره يو هر اړخيز وړانديز وکړ، چې د افغان مشرانو له پراخې ستاينې او د نړيوالې ټولنې له پياوړي ملاتړ سره مخ شو. په داسې حال کې چې طالبانو پرته له دې چې په مستقيم ډول د دولت د خبرو اترو وړانديز ته ځواب ووايي، د ۲۰۱۸ کال خپل پسرلني عمليات اعلان کړل. تر اعلان وروسته، طالبانو د ولسواليو پر مرکزونو د يو لړ بريدونو په ترسره کولو سره خپلو نظامي عملياتو ته زور ورکړ. په ښاري سيمو کې د زياتو تلفاتو يو شمير پيښنو سره، امنيتي وضعيت په لوړه کچه بې ثباته دی. ډله ييز او ځانمرګي بريدونه د ملکي تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کيږي. په عام ډول د ملکي تلفاتو شميرې لوړې خو ثابتې دي. افغانستان د شکنجې ضد او نورو غير انساني يا له سپکاوي ډک چلند يا سزاګانو کنوانسيون او د هغه د الحاقي پروتوکول په وړاندې خپل ريزرويشن بيرته واخيست. ملګرو ملتونو خپل د "واحد ملګرو ملتونو" چوکاټ ولسمشر ته وړاندې کړ،

چې موخه يې د افغانستان خلکو ته د خپلو خدمتونو د موثريت پياوړي کول دي. د لوړې کچې بېځايه کېدنو او د بشري لاس رسي په وړاندې د خنډونو له امله بشري وضعيت لا اوس هم جدي دی، چې وچکالي دغه بشري ننګونې لا پسې ناوړه کوي. افغانستان او پاکستان د سولې او پيوستون لپاره د افغانستان- پاکستان د عمل پر پلان هوکړه وکړه.

**الف. سياسي پرمختګونه**

۴. په پخواني راپور کې د دې يادونه شوې وه، چې د ۲۰۱۷ په ډسمبر کې له بلخ ولايت څخه د جمعيت اسلامي د سياسي ګوند د يوه غړي محمد عطا نور چې له ډېر پر دغه مقام پاتې و، تر ګوښه کولو وروسته، پر سياسي فضا د ولسمشر او د نوموړي ګوند ترمنځ اوږده کشاله حاکمه وه. د ښاغلي نور له خوا د ولايت مقام نه پرېښودل د څو مياشتنۍ کشالې لامل شو، څرنګه چې دواړو خواوو د هغه د پرېښودو د شرايطو په اړه مذاکرې ترسره کړې. دغه کشاله د مارچ پر ۲۲ هغه مهال پای ته ورسيده، کله چې پخواني والي د ده په خوښه د جمعيت د يوه غړي اسحاق رهګذر په ګټه له خپل منصب څخه تير شو، کله چې ولسمشر او ښاغلي نور پر دغې معاملې موافقه وکړه. که څه هم د ولسمشر او جمعيت اسلامي سياسي ګوند ترمنځ کشمکش دوام درلود، خو دغه ګوند له نورو سياسي خوځښتونو سره په ځواک کې يو ځای شو، څو په ټاکنيز سيستم کې د بدلونونو لپاره لابي وکړي.

۵. د راتلونکو ټاکنو په تمه، سياسي آپوزيسيونونو پسې لا زور واخيست. د مئ پر ۲، ښاغلي نور د اجرائيه رياست له دويم مرستيال محمد محقق سره يو ځای آنقرې ته د ولسمشر د لومړي مرستيال عبد الرشيد دوستم د ليدو لپاره سفر وکړ، څو د افغانستان ژغورنې ايتلاف د همغږۍ او پراختيا لپاره سره خبرې اترې وکړي، کوم چې د ۲۰۱۷ په جون کې جوړ شوی او زياتره سياسي غړي يې د شمالي سيمې دي. يوه ورځ وروسته، دغې ډلې د افغانستان د ملي ايتلاف تر نامه لاندې د يوه نوي ايتلاف د جوړيدو اعلان وکړ، چې په رسمي ډول د خپل پخواني ايتلاف جغرافيايي سياسي او قومي تنوع پراخوي، څو په جنوب، جنوب ختيځ او ختيځ کې ځيني نامي پښتون سياسي کړۍ په دغه ايتلاف کې شاملې کړي.

۶. په زيات ډول بسيج شوي له سياسي آپوزيسون سره مخ ولسمشريزې مانۍ د ولسمشر له لومړي مرستيال سره د اړيکو نيولو هڅې جاري ساتلې، څوک چې په ۲۰۱۶ کال کې د يوه سياسي مخالف پر جنسي تيري تورن دی او د ۲۰۱۷ د مئ راهيسې په ترکيه کې ميشت دی. د لومړي مرستيال پلويانو د پارلماني ټاکنو لپاره تر نوماندۍ مخکې د هغه پر بيرته راستنيدنه ټينګار کاوه. د مئ پر ۸، د اسلامي حزب د بنسټګر ګلبدين حکمتيار، او د کار او ټولنيزو چارو د وزير فيض الله ذکي په ګډون يوه پلاوي انقرې ته ددې لپاره سفر وکړ چې د راپورونو له مخې افغانستان ته د ښاغلي دوستم د راستنيدنې د تياريو په اړه خبرې اترې وکړي.

۷. ولسمشر او دغه راز د هغه ملاتړو هڅه کوله چې د اسلامي حزب (ګلبدين) له سياسي خوځښت په تيره بيا د دغه ګوند له بنسټګر سره، څوک چې پخوانی ياغي و او کابل ته له دولت سره د سولې موافقې تر لاسليک کولو وروسته د ۲۰۱۷ په اپريل کې راستون شوي، خپل ايتلاف غښتلی کړي. د مارچ پر ۱۴،دولت د امنيتي ادارو او اړوندو وزارتونو له استازو سره ناسته ترسره کړه، څو د ۲۰۱۶ د سولې موافقې د تطبيق په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د ناستې په تعقيب، دولت او اسلامي حزب (ګلبدين) تر نوموړې موافقې لاندې له زندان څخه د نورو ۱۶۰ بنديانو غوره کول پيل کړل. په مئ کې، دولت د اسلامي حزب د مشرتابه لپاره په کابل، ننګرهار او لغمان ولايتونو کې نوره ځمکه ځانګړې کړه، او د ځمکې د تخصيص د فرمان طرح يې تعديل کړه، څو افغانستان ته د اسلامي حزب بيرته راستيندونکي د لومړيتوب د يوې کټګورۍ په څير د ځمکې په بشردوستانه تخصيص کې شامل کړي.

دولت دغه راز په مشرتابه منصبونو کې د ګلبدين ډلې د استازو د زياتولو په موخه ګامونه پورته کړي، چې د فبروري په وروستيو کې د واليانو د بيا ځای په ځای کولو چارې د يادولو دي- د کومو په ترڅ کې چې يو شمير هغه يې د حکمتيار پلويانو ته ورکړل شوي.

۸. په ورته وخت کې، جمعيت اسلامي په ټاکنيز سيستم کې د بدلونونو د رامنځ ته کولو لپاره چې د نسبي استازيتوب عنصر په کې شامل کړای شي، خپله لابي جاري ساتلې. که څه هم دغه موضوع د ښاغلي نور پر سر په خبرو اترو کې را ولاړ شوې وه، خو غوښتنې د نورو سياسي خوځښتونو راکښون او د ملاتړ چټکه جلبيدنه تر لاسه کړه. په مارچ کې، د ۲۷ سياسي ګوندونو يوه ګروپ، چې د جمعيت، جنبش ملي او دوو نورو ډلو هر يوه اسلامي حزب او حزب وحدت اسلامي له خوا يې استازيتوب کيده، يوه د تماس ډله جوړه کړه، چې دواړه دولت او نړيوالې ټولنې ته د ټاکنو په قانون کې د بدلونونو لپاره لابي وکړي. د اپريل پر ۵، د تماس ډلې سره په لومړۍ ناسته کې، ولسمشر د موضوع په اړه له سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبيق د څار له خپلواک کميسيون څخه د قانوني لارښوونې د تر لاسه کولو غوښتنه وکړه. د مئ پر ۷ په دويمه ناسته کې، ولسمشر پر خپل دريځ ټينګار وکړ، چې اړوند قوانين بايد د موضوع په اړه پريکړه وکړي. نوموړې ډله د راپور په موده کې پر خپل موقف ولاړه وه، له دې اندېښنو سره سره، چې وړانديز شوي بدلونونه به د ټاکنو په ترسره کولو کې د نور ځنډ لامل شي او دا چې دغه سمونې ټاکنو ته ډيرې نږدې ترسره کيږي، دا به د دواړو اصلاحاتو او ټاکنو اعتبار کمزوری کړي.

۹. د مئ پر ۳ د حکومت له خوا د اوږد مهاله ناندريزو بريښنايي پيژند پاڼو د ويش له اعلان سره يو لا پيچلي سياسي حالت رامنځ ته شو. دغه اعلان د يو شمير سياسي ځيرو چټک غبرګونونه را وپارول. دغه کار په ځانګړې ډول د غير پښتون مشرانو له خوا قوي نيوکې را وپارولې، چې زياترو يې په پيژند پاڼو کې د تابعيت د تعريف لپاره د "افغان" توري له اضافه کولو سره مخالفت کاوه، او استدلال يې کاوه چې دغه توري په تاريخي ډول د پښتنو لپاره کارول شوی. اجرائيه رييس عبد الله، څوک چې د بريښنايي پيژند پاڼو له ويش سره تر هغې مخالف دی تر کومه چې د قوم مخالفت موضوع نه وي حل شوي، دغه بهير ته د يوې وينا په خپرولو سره غبرګون وښود، چې پر حکومت يې د ټاکنيزو اصلاحاتو د نشتون په ګډون د يو شمير مسلو له امله نيوکې کولې.

۱۰. د ټاکنو خپلواک کميسيون د پارلماني او ولسوالۍ شوراګانو ټاکنو د ترسره کولو لپاره خپل چمتوالی جاري ساتلی. د اپريل پر لومړۍ نېټه، کميسيون اعلان کړه، چې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر ۲۰ به د ټاکنو نوې نېټه وي، چې د جولای ۷ پخوانۍ اعلان شوې نېټې څخه وځنډول شوې. د رايه ورکوونکو ثبتونه چې د اپريل پر ۱۴ پيل شوې، له ۲۰۰۳ راهيسې د رايه ورکوونکو بشپړه ثبتونه په ډاګه کوي. کله چې بشپړه شي، د رايه ورکوونکو د ثبت پروسه د دې لپاره طرح شوې، چې د رايه اچونې په مرکز پورې مشخص د رايه اچوونکو ليستونو په درلودو سره يو جامع ثبت رامنځ ته کړي، چې موخه يې د درغليو راکمول او د عملياتو تسهيلول دي. د ټاکنو له خپلواک کميسيون سره په همغږۍ، د نفوسو د احوال ثبتولو مرکزي ادارې د کاغذي پيژند پاڼو د صادرلو لړۍ چټکه کړې، کوم چې د رايه اچوونکي د ثبت اساس ګڼل کيږي. د انتخاباتي همکارانو ترمنځ د غوره همغږۍ د بسيجولو په يوه هڅه کې، دولت په منظم ډول د مختلفو دولتي ادارو چې په انتخاباتي پروسې کې ښکيلې دي او د ټاکنو د خپلواک کميسيون او دغه راز د يوناما او کليدي مرستندويه هيوادونو ترمنځ د لوړې کچې ناستې ترسره کړې. د مارچ پر ۲۷، د ټاکنو پنځمه ملي غونډه ترسره شوه، څو د ټاکنو خپلواک کميسيون او سياسي شريکبانو ترمنځ ګډون وهڅوي. د اپريل د ۳۰ او مئ د لومړۍ ترمنځ په ۳۱ ولايتونو کې د ټاکنو ولايتي غونډې ترسره شوې. د دغې پروسې په بهير کې، يوناما د سياسي ګوندونو له مخکښو مشرانو سره ګډون کوي، څو د ټاکنو له خپلواک کميسيون سره ډيالوګ تسهيل کړي.

۱۱. په هر حال، د ټاکنیزو تیاریو په تړاو زیات شمیر ننګونې موجودې وې. د کمیسیون لپاره د کارمندانو په ګمارنه کې هم ستونزو شتون درلود، چې د مرکز او ولایتونو په کچه نږدې ۱۴۰ کلیدي پوستونه لا اوس هم خالي دي. عملیاتي ستونزو د هویت اسنادو او د رایه ورکوونکو د ثبت د سټیکرونو پر ویش خپل اغیز جاري ساتلی. په ځانګړي ډول پر هویت پاڼو د سټیکرونو وهل چې رایې ورکولو د مستحق کېدو ښکارندوي کوي امنیتي اندېښنې راولاړې کړې، په تیره بیا له هغو راپورونو وروسته، چې وسله والو هغه اشخاص ګواښلي د چا پر پېژند پاڼو چې سټیکرونه وهل شوي. د مئ پر ۱۲، ولسمشریزې ماڼۍ اعلان وکړ، چې د پېژند پاڼو کاپیان هم کیدای شي د رایه ورکوونکي د ثبت په موخه وکارول شي، او کولی شي چې خپل اصلي پیژند پاڼه چې سټیکر پرې نه وي وهل شوی، وسله والو ته ور وښایي که چیرې د هغوی له خوا ودرول شي. د مئ پر ۱۳، څلورو کمیشنرانو رسنیو ته وویل، چې د ټاکنو تر قانون لاندې دغه پریکړه غیر قانوني ده، او د دغې موضوع پر سر د ټاکنو کمیسیون سرپرست له خپلې دندې استعفا ورکړه. د مئ پر ۱۶، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مصالحت شوې حل لارې تطبیق غوره کړ، چې د رایه ورکوونکي د ثبت په موخه یې غبرګو پیژند پاڼو ته اجازه ورکوله.

۱۲. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ترمنځ څرګند اختلافات او د کمیسیون او ولسمشریزې ماڼۍ ترمنځ کشمکشونو د ټاکنیزو تیاریو د اعتبار په اړه د خلکو اندېښنې لا پسې زیاتې کړې. د رایه ورکوونکو د ثبت شمیرې په اساسي ډول د کمیسیون د پام وړ هغو په پرتله کمې وې، چې د امنیتي اندېښنو او په زیات شمیر ولایتونو کې د اداري ظرفیت د نشتون له امله اغیزمن شوي. د مئ تر ۱۷ نېټې پورې نږدې ۱٫۸ میلیونه رایه ورکوونکي ثبت شوي وو، چې ۲۸ سلنه یې ښځې وې. د رایه ورکوونکو د ثبت کمپاین د سوکه پیل د جبران په یوه هڅه کې، کمیسیون د مئ پر ۱۰ اعلان وکړ، چې په ښاري مرکزونو کې به دغه پروسه د یوې بلې میاشت لپاره وغځوي، چې په ورته وخت کې دغه پروسه په کلیوالي سیمو کې هم پیلوي. د ثبت سوکه پیل، د عامه پوهاوي کمزوري کمپاین او لږ تبلیغات د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د وړتیا په اړه اندېښنې لا پسې زیاتې کړې.

۱۳. دولت د سولې او امنیتي همکارۍ د کابل پروسې د دویمې ناستې په اوږدو کې چې د فبروري پر ۲۸ نېټه ترسره شوه، د سولې پروسې د تقویې په لور مهم ګامونه پورته کړل، په کومه کې چې ولسمشر له طالبانو سره د مستقیمو خبرو اترو لپاره پرته له کوم مخکیني شرط څخه یو هر اړخیز وړاندیز وکړ. په دغه وړاندیز کې ولسمشر د سولې د خبرو اترو د یوې برخې په څیر په سیاست کې د هغوی د شاملولو، اوربند، د اساسي قانون د تعدیل، د بندیانو د خوشي کولو، له تور لیست څخه د هغوی د مشرانو لیرې کولو، له ټولنې سره د کډوالو او پخوانیو جنګیالیو یو ځای کولو ژمنه وکړه. د حکومت دغه وړاندیز په پراخه کچه د مختلفو سیاسیونو له خوا وستایل شو او د نړیوالې ټولنې پیاوړی ملاتړ یې تر لاسه کړ. د ناستې په ورستي پریکړه لیک کې، ګډونوالو د حکومت وړاندیز تایید کړ او په افغانستان کې یې د نړیوالې ټولنې د راتلونکي رول د مخالفو اړخونو په اړه د بیا خبرو اترو یادونه وکړه، کوم چې د دولت او طالبانو ترمنځ د اختلاف ټکی دی. د ډلې ترمنځ وړاندیز ته د ځواب ویلو پر سر د اختلافاتو سره سره، بیا هم طالبانو دغه وړاندیز ته په رسمي ډول کوم ځواب ور نه کړ. د اپریل پر ۲۵، طالبانو پرته له دې چې د فبروري د ۲۸ د دولت د سولې د وړاندیز یادونه وکړي، د "الخندق" په نامه خپل کلني پسرلني یرغلیز عملیات اعلان کړل.

۱۴. په اپریل کې، په هلمند ولایت کې د پهلوانۍ په یوه میدان کې تر ځانمرګي برید وروسته، ځایي مدني ټولنې فعالینو د ولایت په مرکز کې "د سولې پرلت خیمې" وهل پیل کړل. د څو ورځو په دننه کې دغه خوځښت په ټول هیواد کې خپور شو، چې شمیر یې ۲۰ ولایتونو ته رسیږي. دغو لاریون کوونکو پر ټولو جنګیالیو غږ کاوه چې خپلې وسلې پر ځمکه کیږدي او د سولې لپاره خبرې اترې پیل کړي. دغه خوځښت د هیواد په کچه یو بې ساری، خود جوشه، مدني حرکت وه، چې د سولې غوښتنه کوي او تر اوسه د هیڅ لوري نه دولت او نه هم طالبانو پورې تړاو لري. نه دولت او نه هم طالبانو د تاوتریخوالي د بندولو او د خبرو اترو د پیلولو غوښتنه ومنله. د یو څه ځواک

له لاسه ورکولو وروسته، دمئ پر ۱۱ د هلمند لاریون کوونکو اعلان وکړ، چې هغوی به کابل ته پلي مزل وکړي او د جګړې له ټولو خواوو یې وغوښتل چې وسلې پر ځمکه کیږدي او روژې په میاشت کې د ملکیانو له وژلو لاس واخلي.

## ب. امنیت

۱۵. د راپور په موده کې په لوړه کچه بې ثباته امنیتي وضعیت په افغانستان کې پر امنیتي، بشري او پرمختیایي حالاتو حاکم و. یوناما د فبروري د ۱۵ او مئ د ۱۵ ترمنځ ټولټال ۵۶۷۵ پېښې مستندې کړې، چې په ۲۰۱۷ کال کې د ورته مودې په پرتله ۷ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د راپور په موده کې ختیځه سیمه تر ټولو زیاته ځپل شوې وه، چې په تعقیب یې جنوبي، شمالي او جنوب ختیځې سیمې وې، چې د ټولو ثبت شویو پېښو ۸۲ سلنه جوړوي. وسله والې نښتې د شخړې اړوند پېښو زیاته برخه جوړوي، چې د ټولو پېښو ۶۴ سلنه تشکیلوي او په تعقیب یې د لاس جوړ چاودیدونکي توکي دي، چې د ټولو پېښو ۱۵ سلنه جوړوي. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله په هدفي وژنو او ځانمرګو بریدونو کې په ترتیب سره ۳۵ او ۷۸ سلنه د پام وړ زیاتوالی رامنځ ته شوې. د راپورونو له مخې د نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان هوایي ځواک له خوا د هوایي بریدونو شمیر لا اوس هم لوړ دی، چې د ټولو پېښو ۵ سلنه جوړوي، کوم چې د پخواني راپور راهیسې ۱۸ سلنه او د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

۱۶. په څو مشخصو جبهو متمرکزه شخړه، چیرې چې د جګړې زیاتره تمرکز د ننګرهار، هلمند، کونړ، کندهار، فاریاب او غزني پر جبهو دی، د ټولو امنیتي پېښو ۶۰ سلنه جوړوي. په ځینو سیمو کې له کلک مقاومت سره سره، د راپور په موده کې د دولت او طالبانو ترمنځ د سیمو په کنټرول کوم د پام وړ بدلون نه دی رامنځ ته شوی. په ښاري مرکزونو کې د لوړې کچې تلفات اړوونکي ځانمرګي بریدونه د لوړ شمیر تلفاتو لامل کیږي.

۱۷. د اپریل پر ۲۵، طالبانو خپل کلني پسرلني یرغلیز عملیات د "الخندق" تر نامه لاندې اعلان کړل. په اعلان کې دغې ډلې په مستقیم ډول د امریکا د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ یادونه کړې، او اراده یې څرګنده کړې چې په افغانستان کې نړیوال نظامي ځواکونه او د هغوی ملاتړي په نښه کوي، او د توجیه په څیر یې د یو شمیر مشخصو نا رضایتیو یادونه کړې، لکه د بهرنیو ځواکونو شتون، ملکي تلفات، د ملکیتونو تخریب او "نا مشروع کړنې". د جګړې د تیر کال اعلامیې په خلاف، د دغه کال اعلان تر ډیره د طالبانو پر نظامي ستراتیژۍ متمرکز و، چې د دغې ډلې د سیاسي او حکومتولۍ یوازې د کم شمیر موخو یادونه په کې شوې. اعلان د شخړې اړوند له یو شمیر بیړنیو پېښو سره مل و، چې د اعلان په ورته ورځ په ۲۱ ولایتونو کې له ۵۰ څخه زیاتې پېښې ثبتې شوې، چې د قوماندې او کنټرول د پام وړ اندازه او دا وړتیا په ډاګه کوي، چې نوموړې ستراتیژۍ له عملیاتو سره څومره اړخ لګوي.

۱۸. تر اعلان وروسته اونیو کې، طالبانو د ولسوالیو پر اداري مرکزونو خپل بریدونه زیات کړل، چې په موقت ډول یې په بدخشان ولایت کې ریګستان او کوهستان ولسوالۍ، په کندز ولایت کې قلعه زال، په بغلان ولایت تاله او برفک، په فاریاب ولایت کې بلچراغ او په غزني ولایت کې اجرستان، ده یک او جغتو ولسوالۍ تر خپلې ولکې لاندې راوستې. له ۲۰۱۶ راهیسې د لومړي ځل لپاره، د مئ پر ۱۴ طالبانو دغه راز د افغانستان په لویدیځ کې د فراه پر مرکزي ښار په ستره کچه یرغلیز برید وکړ، چې د ښار په دننه کې یې یو شمیر کلیدي دولتي ودانۍ محاصره کړې. د برید له امله درندې وسله والې جګړې رامنځ ته شوې، چې څو ورځ یې دوام وکړ، او په پای کې د نړیوالو ځواکونو د هوایي ملاتړ په مرسته د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا طالبان په شا وتمبول شول.

۱۹. حکومت د امنیتي سکتور د اصلاحاتو په اړه د خپل څلور کلن پلان سره سم، د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په لیکو کې خپل اصلاحات جاري ساتلي. د راپور په موده کې، حکومت پر جګړه بیزو عملیاتو د

خپل تمرکز سره سم، د کورنیو چارو له وزارت څخه دفاع وزارت د افغان سرحدي پولیسو لیږد بشپړ کړی او د هغوي نوم یې پر افغان سرحدي ځواکونو اړولی. د څلور کلن پلان له مخې، حکومت دغه راز د افغان ځانګړو ځواکونو د دوه برابره کولو د پلان د یوې برخې په څیر د دغو ځواکونو زیاتول روان ساتلي. د راپور په موده کې، ۲۰۰۰ نورو کماندویان د ځانګړو ځواکونو له لیکو سره یو ځای شوي. د افغان هوایي ځواک د زیاتولو هڅې هم رواني دي، چې تمه کیږي د یوه پلان له مخې به تر ۲۰۲۳ پورې دوه برابره زیات شي. سربیره پر دې، دولت د ۲۰۱۷ د اړوند قانون د احکامو لاندې د مشرانو نظامي چارواکو تقاعد رامخ ته کړی، چې د ملي اردو د ۶۱ جنرالانو دویمې ډلې د تقاعد فرمان د ولسمشر له خوا د مئ پر ۱۲ صادر شوي.

۲۰. د راپور په موده کې، دولت د افغان ملي اردو د سیمه ییز ځواک په نامه د نوي امنیتي ځواک د جوړولو لپاره تیارۍ پیل کړې. تمه کیږي چې دغه ځواک به له نږدې ۳۶۰۰۰ پرسونل څخه تشکیل وي او په عمده ډول به د هغو سیمو د دفاع مسوول وي چې له یاغیانو څخه د نظامي عملیاتو پرمهال پاکې شوې وي. نږدې ۵۰۰۰ سرتیري په ازمایښتي پړاو کې ګمارل شوي او په څلورو ولایتونو کې به پیل شي، چې روزنه یې د دفاع وزارت په ملاتړ او څارنه ترسره شوې.

۲۱. د عراق او شام د اسلامي دولت- خراسان ولایت په ننګرهار، کونړ او جوزجان ولایتونو کې خپل شتون جاري ساتلی. په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د داعش خراسان ولایت ډلې او طالبانو ترمنځ د وسله والو جګړو راپور ورکړل شوي، څرنګه چې دواړه ډلې له میاشتو له راهیسې پر سیمه د کنترول لپاره هڅې کوي. دغې ډلې همدارنګه د راپور په موده کې په کابل کې د اپریل پر ۳۰ او د مئ پر ۹ د بریدونو په ګډون د ۱۱ سترو تلفات اړوونکو ځانمرګو بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی. د اپریل پر ۳۰ په ترسره شوي برید کې، یوه ځانمرګي بریدګر د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو یوه پوسته په نښه کړه، چې په تعقیب یې نږدې ۳۰ دقیقې وروسته یو بل برید هم ترسره شو. دویم ځانمرګی بریدګر چې د راپورونو له مخې یې ځان یو ژورنالست ښودو خپل واسکټ د هغو ژورنالستانو ترمنځ وچوه، چا چې د لومړنی پېښې راپور ورکاوه. له اندېښنې ډک په یوه حالت کې، دغه بریدونه زیاتره د شیعه لږکیو په وړاندې ترسره شوې، چې په ښکاره د دې لپاره طرح شوې څو فرقه ییزې ستونزې راوپاروي.

۲۲. د تهدید د یوې او د جنایي دوو پېښو په ګډون د دریو داسې پېښو راپور ورکړل شوی، چې د ملګرو ملتونو کارمندان په کې شامل وو.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۳. له تیر راپور راهیسې، په افغانستان کې د سولې او ثبات په اړه د یوې مشترکې نړیوالې تګلارې د توحید کولو په اړه د پام وړ ګامونه پورته شوي. د فبروري پر ۲۸، دولت د سولې او امنیتي همکارۍ لپاره د کابل پروسې د دویمې ناستې کوربه و، چې د ۲۶ هیوادونو استازو، دغه راز اروپایي اتحادیې، ناټو او ملګرو ملتونو په کې ګډون کړی و. ناستې ته په وینا کې، ښاغلی غني اعلان کړه چې دولت له طالبانو سره د سولې خبرو اترو لپاره چمتو دی. د ناستې په پای کې په یوه ګډ پریکړه لیک کې، ګډونوالو په ټولیز ډول د ولسمشر د وړاندیز هرکلی او د سولې، پخلاینې او تروریزم ضد مبارزې په اړه یې پر یوې پراخې سیمه ییزې او نړیوالې همکارۍ هوکړه وکړه.

۲۴. په افغانستان کې د سولې په اړه دغه موافقه د هغه کنفرانس له خوا له غښتلې شوه، چې د مارچ پر ۲۷ په تاشکند کې دایر شو، په کوم کې چې د ۲۳ هیوادونو لوړ پوړو چارواکو، همدارنګه اروپایي اتحادیې او ملګرو ملتونو ګډون کړی و. ګډونوالو له طالبانو سره د مستقیمو خبرو اترو د ترسره کولو لپاره د افغان حکومت د وړاندیز لپاره خپل ملاتړ بیا تایید کړ. د کنفرانس په نهایي پریکړه لیک کې ګډونوالو د افغانانو په مشرتابه او د هغوي په

مالکیت د سولې پروسې لپاره خپل ملاتړ په ډاګه کړ، کومه چې به د دولت او طالبانو ترمنځ د سولې پر یوې هر اړخیزې موافقې تمامه شي. همدارنګه پرته له کوم توپیر د تروریزم له ټولو بڼو سره د نړیوالې ټولنې پر مخالفت ټینګار وشو. د سولې پروسې په وړاندې د نړیوال تحرک ساتلو په هڅه کې، اندونیزیا د مۍ پر ۱۱ له افغانستان، اندونیزیا او پاکستان څخه د دیني عالمانو د یوې درې اړخیزې ناستې کوربه وه. عالمانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره د جګړې پر ټولو ښکیلو خواوو غږ کاوه چې خپلې وسلې پر ځمکه کیږدي، د سولې پروسې ملاتړ یې کاوه او ځانمرګي بریدونه یې د تروریستي او غیر اسلامي کړنو په څېر غندل. له طالبانو هم غوښتل شوي و، چې دغه کنفرانس ته خپل استازي ولیږدوي، خو د هغوي له خوا رد شو او له کنفرانس وروسته یې یوه اعلامیه خپره کړ، چې کنفرانس یې د امریکا د متحده ایالاتو د یو ابتکار په څېر رداوه او د دې یادونه یې کوله، چې کنفرانس په دې کې پاتې راغلی چې په افغانستان کې د جهاد په ضد فتوا صادره کړي.

۲۵. افغانستان د نړدې سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ د جوړولو په لور ګامونه پورته کړي. د فبروري پر ۲۳ د ترکمنستان- افغانستان- پاکستان- هندوستان د طبیعي ګاز د نل لیکې د افغانستان برخه په رسمي ډول په هرات کې پرانستل شوه، چې د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني، د ترکمنستان ولسمشر قربان قلي بردي محمدوف، د پاکستان لومړي وزیر شاهد خاقان عباسي، او د بهرنیو چارو لپاره د هند د دولت وزیر ایم جی اکبر یې ګډونوال وو. غونډې په وینا کې، ښاغلي غني روښانه کړه، چې دغه نل لیکه د سیمه ییزې اقتصادي نښلون لپاره یوه مهمه د عطف ټکی رامنځ ته کوي. د اپریل پر ۹، د اسیا زړه- استانبول پروسې د لوړ پوړو چارواکو ناسته په استانبول کې ترسره شوه. په ناسته کې ګډونوالو هیوادونو چې د ۲۰۱۸ لپاره د ګډو مشرانو په څیر یې مشري د افغانستان او ترکیې له خوا کیده، د اسیا زړه تر چوکاټ لاندې د باور جوړونې پر اوم معیار کرنه باندې هوکړه وکړه او د باور جوړونې اړوند معیارونو د عملي تدابیرو له لارې د سیمه ییز همکارۍ د غښتلي کولو پر لارو چارو یې خبرې اترې ترسره کړې.

۲۶. د اړیکو د خرابیدو او ترینګلتیا څو میاشتې وروسته، افغانستان او پاکستان د سولې او پیوستون لپاره د افغانستان- پاکستان د عمل پلان موافقه نهایي کړه. د اپریل پر ۶، د پاکستان لومړي وزیر شاهد خاقان عباسي د عمل پلان د دریم دور خبر اترو لپاره له کابله لیدنه وکړه. د لیدنې پر مهال، ښاغلي عباسي له ښاغلي غني او اجرائیه رییس عبد الله سره جلا جلا کتنې ترسره کړې، څو د افغان سولې پروسې، سیمه ییز سیاسي او امنیتي وضعیت، دوه اړخیزې سوداګرۍ، د کډوالو د راستنیدو، د پولې په اوږدو کې د سرغړونو او له تروریزم سره د مبارزې په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د لیدنې په پای کې، دواړو خواوو د عمل پلان د چوکاټ په دننه کې پر اوو کلیدي اصولو موافقه وکړه. که څه هم د چوکاټ نهایي کول د اپریل پر ۱۵ او ۱۶ د پولې په اوږدو کې د جګړې له امله په موقت ډول وځنډیدل. تر پیښو سمدستي وروسته، د افغانستان او پاکستان نظامي چارواکو د ترینګلتیا د حل کولو او د جګړې د درولو په موخه سره وکتل. د مۍ پر لومړۍ نیټه په یوه محفل کې چې ښاغلي عباسي په کې ګډون کړی و، پاکستان په رسمي ډول په افغانستان کې د خوست او په پاکستان کې د شمالي وزیرستان ترمنځ د غلام خان پوله پرانیسته، کوم چې د ۲۰۱۴ راهسې تړلې وه. تمه کیږي چې د دغې پولې پرانستل به کوم چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ دریمهستره پوله ګڼل کیږي، د پولې په اوږدو سوداګري زیاته کړي. د مۍ پر ۱۴، د عمل پلان په اسلام اباد کې د دواړو هیوادونو د پلاوو له خوا نهایي شو، چې مشري یې د افغانستان د بهرنیو چارو د مرستیال حکمت خلیل کرزي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د مرستیالې تهمینه جنجوعه له خوا کیده. د عمل تر دغه پلان لاندې، په مختلفو برخو کې د همکارۍ لپاره شپږ کاري ډلې په کار ګمارل شوي.

**درېیم. بشري حقونه**

۲۷.	د اپریل پر ۱۲، یوناما په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال د لومړۍ ربع راپور خپور کړ.[1] ماموریت د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او د مارچ د ۳۱ نېټې تر منځ ۲۲۵۸ ملکي تلفات (۷۶۳ مړه او ۱۴۹۵ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کال په مودو کې د زیان ورته اندازې منعکسوي. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۷ سلنه دولت ضد عناصرو (۵۰ سلنه طالبانو، ۱۱ سلنه د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې، ۴ سلنه نا مشخصو دولت ضد عناصرو، د هغو وسله والو په ګډون څوک چې ځانونه د اسلامي دولت خراسان ولایت جنګیالي معرفي کوي، او دوه سلنه د دولت ضد عناصرو ترمنځ جګړې ته) ۱۸ سلنه دولت پلوه ځواکونو، ۱۱ سلنه نا منسوب شوي لوري ته د ډزو تبادلې، او ۴ سلنه له جګړې څخه پاته شونو چاودیدونکو توکو او د پولې په اوږدو کې د ډزو په ګډون نورو پېښو ته منسوب کړي. د لومړي ځل لپاره ځانمرګي او ډله ییز بریدونه د ځمکنیو نښتو په پرتله د ملکي تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کیږي. یوناما دغه راز ملاحظه کړې چې د دولت ضد عناصرو د هغو بریدونو له امله ملکي تلفات، چې په عمدي ډول ملکیان په نښه کوي د ۲۰۱۷ کال د لومړۍ ربع په پرتله دوه برابره زیات شوي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۳۹ سلنه او دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو تلفاتو ۵۹ سلنه جوړوي. په ۲۰۱۷ کال کې د ملاحظه شویو تمایلاتو سره سم، دولت ضد عناصرو شیعه مذهبه لړکیو په وړاندې خپل بریدونه جاري ساتلي، چې د ۱۵۴ ملکي تلفاتو (۴۹ مړه او ۱۰۵ ټپیان) لامل شوي، چې نږدې ټول یې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي چې مسوولیت د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې منلی.

۲۸.	د لاس جوړ چاودیدونکو توکو تاکتیکونو (د ډله ییزو، ځانمرګو او غیر انتحاري بریدونو په ګډون) ۱۰۱۸ ملکي تلفات (۳۱۱ مړه او ۷۰۷ ټپیان) اړولي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۵ سلنه جوړوي. ځمکنۍ نښتې د ۶۶۳ ملکي تلفاتو (۱۶۱ مړه او ۵۰۲ ټپیان) لامل شوي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي. یوناما د هوایي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو د لوړو شمیرو مستند کول جاري ساتلي: ۱۴۲ تلفات (۶۷ مړه او ۷۵ ټپیان)، چې ښځې او ماشومان د دغو تلفاتو له نیمه یې څخه زیاته برخه تشکیلوي. ماموریت د ماشومانو ۵۸۳ تلفات (۱۵۵ مړه او ۴۲۸ ټپیان) مستند کړي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۵ سلنه جوړوي. د ښځو تر منځ تلفات ۲۴ سلنه راکم شوي، چې ټولټال ۶۰ وژل شوي او ۱۵۷ نورې ژوبلې شوې، چې د دغو تلفاتو له نیمه یې زیات یې د ځمکنیو نښتو په پایله کې اوښتي.

۲۹.	د مۍ پر ۷، ماموریت د "کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې هوایي برید، ۲ اپریل ۲۰۱۸" تر عنوان لاندې د هغه هوایي برید په اړه چې په کندز ولایت کې د افغان هوایي ځواک له خوا د طالبانو تر ولکې لاندې سیمه کې په یوې پرانیستې فضا کې پر دیني مراسمو ترسره شو، خپور کړ. راپور له اندېښنې سره د برید د بې توپیره ماهیت یادونه کوي، چې له امله یې لږ تر لږه ۱۰۷ تلفات (۳۶ مړه او ۷۱ ټپیان) رامنځ ته شوي، چې زیاتره یې ماشومان وو، او پر دولت د بې پرې څېړنې ترسره کولو غږ کوي. د مۍ پر ۱۶، ولسمشر د یوې بیانیې په خپرولو سره د پېښې لپاره بخښنه وغوښته، خپله خواشیني یې څرګنده او د خسارې د جبران وړاندیز یې وکړ. د مۍ پر ۱۰، ماموریت د "رایه ورکوونکي د ثبت په لومړۍ دوره کې د ټاکنو اړوند بریدونه او تیري" تر عنوان لاندې ځانګړی راپور خپور کړ. په راپور کې د دې یادونه شوې، چې د اپریل پر ۱۴ د رایه ورکوونکو د ثبت له پیل راهیسې، د ټاکنو اړوند ۲۳ امنیتي پېښې رامنځ ته شوې، چې د ۲۷۱ ملکي تلفاتو (۸۶ مړه او ۱۸۵ ټپیان) لامل شوي، چې زیاتره قربانیان یې ښځې او ماشومان وو، د اپریل پر ۲۲ په کابل کې په یوه شیعه میشته سیمه کې د برید په ګډون، د کوم په پایله کې چې ۶۰ ملکیان ووژل شول او ۱۳ نور ژوبل شول او مسوولیت یې د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا په غاړه اخیستل شوی. په دې سربیره راپور د ۲۶ ملکیانو تښتونه او داسې پېښې مستندې کړي، چې ګواښونه،

[1] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)، "په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه دری میاشتنی راپور: د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې."

تهدید او ځورونه رانغاړي. دغه راز ملاحظه شوې چې د ټاکنو اړوند ۷۵ سلنه امنیتي پېښې په هغو ښوونځیو یا جوماتونو کې رامنځ ته شوي، کوم چې د ټاکنو اړوند موخو لپاره کارول شوي، چې ښوونیز فعالیتونه یې ټکني کړي.

۳۰. د جنوري له لومړۍ د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې د څارنې او راپور ورکونې د هیواد د کچې کاري ځواک د ښوونځیو او اړوند پرسونلو په وړاندې د بریدونو ۱۱ پېښې (پنځه د طالبانو، درې د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې، دوه د نامعلومو دولت ضد عناصرو او یوه د دولت پلوه ملیشو له خوا) تایید کړې، کوم چې د تیر کال په لومړۍ ربع کې ۱۳ هغه وو. د طالبانو له خوا د ښوونیزو مرکزونو په وړاندې د ګواښونې دوې پېښې د اندېښنې وړ وي چې په کندز (۳۴۲ ښوونځي) او لوګر (۲۹ ښوونځي) ولایتونو کې په پراخه کچه د ښوونیزو د تړلو لامل شوې. سربیره پر دې، کاري ځواک د تیرې ربع د اوو ښوونځیو په پرتله د نظامي موخو لپاره د دریو ښوونځیو کارول تایید کړي (یو د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې او دوه د افغان ملي اردو له خوا). د روغتیایي چارو د کارمندانو په وړاندې د اتو بریدونو، په روغتیایي مرکزونو د بریدونو د پنځو ګواښونو او څلورو بریدونو (پنځه د طالبانو، اوه د اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې، یوه یوه د نامعلومه وسله والې ډلې او د ملي امنیت د ریاست، یوه په ګډه د افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست، یوه په ګډه د افغان ځانګړو ځواکونو او نړیوالو نظامي ځواکونو او یوه د دولت پلوه ملیشو له خوا) په ګډون، کاري ځواک د پخوانۍ ربع د اوو پېښو په پرتله د روغتونونو او اړوند کارمندانو په وړاندې د بریدونو ۱۷ پېښې تایید کړي.

۳۱. د راپور د تیرې مودې د پنځو په پرتله، ماموریت د دولت ضد عناصرو له خوا د ۱۹ ماشومانو ګمارنه او کارونه تایید کړې. د ۲۰۱۷ کال په ډسمبر کې د ۱۷۱ په پرتله، د ۲۰۱۸ د مارچ تر ۳۱ پورې، د عدلیې وزارت د ژنکو د اصلاح په مرکزونو کې له وسله والو ډلو سره د تړاو په ګډون د ملي امنیت په تورونو د ۱۴۰ ماشومانو د توقیف راپور ورکړی. کاري ځواک پر یوه هلک د جنسي تاوتریخوالي یوه پېښه مستنده کړې. کاري ځواک دغه راز د تیرې ربع د شپږو په پرتله د بشري لاس رسي د مخنیوي ۱۳ پېښې (شپږ شپږ د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې او طالبانو او یوه د افغان ملي پولیسو له خوا) مستندې کړې.

۳۲. دولت د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته د رسیدګي لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې. د مارچ په ۳، ولسمشر یو فرمان لاسلیک کړ، چې د ۲۰۰۹ کال د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون تعدیلوي، ترڅو د دغه قانون ځینې جزایي احکام د جزا له تعدیل شوي قانون سره په تطابق کې کړي، او یو بل فرمان چې د جزا قانون تعدیلوي، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو په تړاو د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق یقیني کوي. د مارچ د ۴ یو ولسمشریز فرمان د تعلیقي حبس له انتخاب څخه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي جرمونو مستثنی کوي. د مارچ پر ۲۸، دولت د ۲۰۰۹ کال د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د تطبیق په اړه خپل پنځم راپور (د ۲۰۱۶ له مارچ څخه د ۲۰۱۷ تر مارچ پورې) خپور کړ، چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ۴۲۹۰ قضیې ثبتوي. په افغانستان کې د ښځو ورځ په ټول هیواد کې له ۳۰ په زیاتو پېښو سره ولمانځل شوه. له همکارانو سره په همکارۍ، یوناما ۱۴ پېښې تنظیم کړې وې، چې د ښځو د حقونو او په سوله او امنیت او د پریکړې کولو په پروسه کې د ښځو د رول اهمیت په ډاګه کوي.

۳۳. د اپریل پر ۱۷، افغانستان د شکنجې ضد او نورو غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزاګانو کنوانسیون له الحاقي پروتوکول سره ملحق شو، چې د بشري حقونو شورا غړیتوب ته د کاندیداتورۍ په تعقیب د خپلو داوطلبانه تعهداتو یو کلیدي هغه پر ځای کوي. په عین نېټه، افغانستان همدارنګه د نوموړي کنوانسیون په وړاندې خپل ریزیرویشن بیرته واخیست، چې په دې سره یې یو بل پخوانی تعهد پر ځای کړ.

۳۴.	یوناما خپلې هڅې جاري ساتلې چې په ۱۵ ولایتونو کې د یو لړ سیمنارونو او ورکشاپونو له لارې د مدني ټولنې رول بسیج کړي. د اپریل پر ۳۰، یوناما د سولې لپاره د ۳۴ ولایتونو د لار نقشو د راغونډولو پروسه په لار واچوله، کوم چې د سولې په اړه د افغانونو د ډیالوګ محصول دی چې له مدني ټولنې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د سولې د عالي شورا سره یو ځای د یوناما له خوا تسهیل شوي. ډیالوګ د جګړې د پای ته رسولو لپاره د سیاسي حل لارې د اهمیت په اړه د توافق په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړه او د دې لامل شو چې د سولې، پرمختیا او عدالت لپاره غوښتنې منعکس کړي. د مدني ټولنې فعالینو د رسنیو کارمندان لا اوس هم له ګواښونو او بریدونو سره مخ دي. یوناما په کابل کې د اپریل پر ۳۰ د هغه هدفي برید په ګډون، چې ۹ ژورنالستان یې ووژل او ۶ شپږ نور یې ټپي کړل، دری داسې پېښې مستند کړي، چې ۱۱ ژورنالستان او د رسنیو کارمندان یې وژلي او ۶ نور یې ټپي کړي.

**څلورم. د کابل د پروسې تطبیق او د پرمختیایي مرستو همغږي**

۳۵.	د لندن او بروکسل په کنفرانسونو کې، د هغوی د ژمنو سره په سمون کې، د اپریل په دوهمه، حکومت د جنوري د ۱۰ نیټې د خپلې پالیسې د تطبیق په موخه د عمل یو پلان نهایي کړ تر څو د هغو ښځو شمیر زیات کړي کومې چې په ملکي خدمتونو کې دندې ترسره کوي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون هم د وزارتونو او ادارو د جوړښتونه چې بنسټ یې په کاري او د اړتیاوو په ارزونه ولاړ دی او په ملي او سیمه ایزو کچو ترسره شوی، د معیاري کولو لپاره تدبیرونه اتخاذ کړي. د دې پروسې په تعقیب، کمیسیون د ښوونکو لپاره د ۸۷۰۰ تشو کاري پوستونو په شمول، ۱۷۷۰۰ تش کاري پوستونه مشخص کړې او د هیواد په کچه یې د یوه ډله ییز استخدام د بهیر له لارې د ۲۲۵۶۷۰ وړ نوماندانو لپاره د سیالیو آزموینې ترسره کړې. د دغو آزموینو پایلې د مې په میاشت کې خپرې شوې. په یوه بله هڅه کې د مارچ په میاشت کې چې موخه یې د ملکي خدمتونو د کمیسیون پیاوړتیا و، د ملکي خدمتونو په قانون کې د اداري اصلاحاتو د طرزالعمل یو نوی فرمان تصویب شو. حکومت معلوماتو ته د لاس رسۍ د ښه والي په اړه پرمختګ هم کړی دی. د مارچ په ۳، ولسمشر د یوه فرمان له لارې معلوماتو ته لاسرسي یو نوی قانون تایید کړ. د ۲۰۱۴ کال معلوماتو ته د لاسرسي په نورو تعدیلاتو کې، د نوي قانون له مخې یو خپلواک کمیسیون معلوماتو ته د لاسرسي لپاره تاسیس شو او د معلوماتو د ورکونکو لپاره محافظتونه معرفي شو.

۳۶.	په فبرورۍ کې، ولسمشر، د افغانستان د اراضي ادارې سره په ګډه د ځمکې د اداره کولو لپاره یو خپلواک ملي پراختیایي پروګرام را منځ ته کړ څو د ځمکې د راجستر کولو یو جامع ډیټابیس جوړ کړي څو په راتلونکي کې د ځمکو د لاندې کولو مسلې ته د ځواب ویلو په موخه بنسټ رامنځ ته کړي. حکومت د ځمکې د تخصیص په اړه د خپل نوې فرمان په هکله هم کار ته دوام ورکړی کوم چې د راستنیدونکو او داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره د ځمکې تخصیص اداره کوي. د برخه والو سره د پراخو مشورو وروسته، د یوناما ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر(UNHCR) او د ملګرو ملتونو د بشري استوګنې د پروګرام(UN-Habitat) په شمول ، د فرمان مسوده د وزیرانو د شورا لخوا د مارچ په ۴ نیټه تر بحث لاندې ونیوله شوه چې د نهایي کیدو په درشل کې ده.

۳۷.	د مې په ۱۵، یوناما د فساد پر وړاندې د هڅو خپل دوهم کلنی راپور خپور کړ. راپور د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر میاشت کې د فساد پر وړاندې د خپلې ستراتیژۍ د پیلولو، د جزا په نوې قانون کې د فساد پر وړاندې د تدبیرونو د پیاوړتیا، د فساد پر وړاندې د عدلي مرکز د ظرفیت د لوړولو او د یوې لا شفافي ملي بودجې د تصویب په شمول، د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو په لومړیو کې د فساد پر وړاندې د یو لړ مهمو اصلاحاتو د پلې کیدو په خاطر د دولت ستاینه وکړه. که څه هم چې، راپور د فساد پر وړاندې د موسساتي چوکاټ په برخه کې د پام وړ تشې په ګوته کړې او د نورو اصلاحاتو لپاره یې سپارښتنې برابرې کړې ترڅو افغانستان د فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو د

کنوانسیون سره په لا بشپړ سمون کې راولي. حکومت د فساد پر وړاندې د قانون د مسودې د جوړولو په برخه کې ښه پرمختګ کړی دی. د اپریل د میاشتې په لومړۍ، د مسودې د جوړولو د پروسې په برخه کې د یوه اوږده ځنډ وروسته، ولسمشر د قانون د نهایي کولو په موخه عدلي وزارت ته لارښوونه وکړه. د مي د میاشتې په ۱۴، د قانون پر مسوده د مدني ټولنې او نړیوالې ټولنې په شتون کې د قانون د حاکمیت او فساد پر وړاندې د عالي شورا له خوا بحث وشو.

۳۸. حکومت د جزا د خپل نوې قانون د تطبیق لپاره ، کوم چې د فبروري د میاشتې په ۱۴ نېټه نافذ شو، ګامونه پورته کړي. د عدلیې وزارت په وینا، د یاد قانون ټولټال ۵۰۰۰ کاپي ګانې چاپ شوې، چې له هغې جملې څخه د هیواد په کچه ټولټال ۱۲۱۹ کاپي ګانې محکمو او څارنوالیو ته ویشل شوې دي. پاتې کاپي ګانې نورو دولتي دفترونو او نړیوالو شریکانو ته ویشل شوې دي. د یاد قانون د لا زیاتو کاپي ګانو د برابرولو په غبرګون کې، ډیری نړیوالو بسپنه ورکوونکو د ۱۰۰۰۰ اضافي کاپي ګانو د تدارکاتو چارې پیل کړې ترڅو د عدلیې وزارت ته د ویشلو لپاره چمتو شي. په اپریل میاشت کې، نړیوالو بسپنه ورکونکو ادارو د روزنو د یوه ۲۶ اونیز پروګرام چارې بشپړې کړې چې چارې به یې د سترې محکمې او لوی څارنوال د دفتر او عدلیې ورزات د روزنو د ریاستونو له خوا په ګډه پر مخ یووړل شي. په اپریل میاشت کې، یوناما په سیمه ییزه کچه د جزا د نوې قانون د پلې کیدو په اړه یوه سروې پیل کړه. د سروې پایلې او ور سره ملاحظات به د ظرفیت جوړولو د هڅو د رهنمایي کولو په هدف د اړوندو ادارو او نړیوالې ټولنې سره شریکې شي.

۳۹. د تیر راپور راهیسې، د اداري فساد پر ضد د مبارزې مرکز اضافي اوه قضیې فیصله کړې ، په دې سره د ټولو قضیو شمیر ۳۴ هغو ته رسیږي، چې په ۲۰۱۶ کال کې د مرکز د جوړیدو راهیسې د تورنو کسانو شمیر ۱۴۲ تنو ته پورته کوي. د امنیتي ادارو په دننه کې د ظرفیت د نشتوالي له امله د هغو قضیو شمیر چې د اشخاصو په غیر حاضرۍ کې فیصله شوې ځو د محکمو جلبونه پلې کړي ډیر لوړ دی.

۴۰. د هغو توقعاتو په غبرګون کې چې یادونه یې د ولسمشر له خوا شوې، ملګري ملتونه باید د دولت تر مشرتابه لاندې "د یوه واحد ملګرو ملتونو په حیث خدمتونه وړاندې کړي"، په افغانستان کې ملګرو ملتونو د خپل کار په اړه بشپړه ارزونه ترسره کړې. ولسمشر د اپریل په ۱۶ د ملګروو ملتونو د ادارو د استازو سره ولیدل تر څو د افغانستان لپاره د "واحد ملګرو ملتونو تر چوکاټ"لاندې پرمختګ وارزوي. په ناسته کې ولسمشر ته د معارف، د خوړو د خوندیتوب، تغذیې او معیشت، روغتیا، ستنیدنې او د ټولنو سره د بیا یو ځای کیدو، د قانون د حاکمیت او هنجاري کار تر چوکاټ لاندې په شپږو موضوعي ساحو کې د ترسره شوې پرمختګ په اړه معلومات ورکړ. ولسمشر ټینګار وکړ چې د دولت په وړاندې د نیستې د کچې را کمول یوه مهمه موخه ده.

۴۱. د اپریل او مي په میاشتو کې، یوناما د افغانستان په اړه د وزیرانو د کچې د تیاریانو په درشل کې د دولت او بسپنه ورکونکو ملاتړ کړی چې کوربتوب به یې د نومبر په ۲۸ د افغانستان او ملګرو ملتونو له خوا په ګډه په ژنیو کې وشي. یوناما، بسپنه ورکونکو او دولت د کنفرانس نه وړاندې د کنفرانس د اجنډا لپاره او هغه هڅې چې باید ترسره شي، مهم مسایل مشخص کړې. د حساب ورکونې د دوه اخیزه چوکاټ له لارې کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې پای ته رسیږي د ځان بسیاینې د پروګرام لاندې د تحویل شویو په اړه د تازه معلوماتو د تنظیم کولو په خاطر، یوناما د بسپنه ورکونکو او دولتي استازو سره په ګډه یو ورکشاپ جوړ کړ څو موجوده سپارل شوي شیان وارزوي.

**پنځم. د بشر پالنې مرستې او راستنیدونکي**

۴۲. د فبروري د ۱۵ او د مي د ۱۵ نیټو تر منځ، د ټولټال ۴۰۳۰۱ کسانو په درلودلو سره، په ۲۰۱۸ کال کې، تر اوسه د شخړې له امله ټولټال ۷۵۶۴۳ کسان نوې بې ځایه شوي چې دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله

۶۵ سلنه کموالی ښيي. د ۱۳۰۰۰ بې ځایه شویو کسانو څخه زیات په کندز ولایت او د ۱۰۰۰۰ کسانو څخه زیات په فراه ولایت کې ریکارډ شوي. یو شمیر زیاتي بې ځایه شوې کورنۍ په وار وار بې ځایه کیدو ته اړې شوې او په خوندي او با عزته توګه خپلو اصلي مینو ته د سمدستي راستنیدو امکان نهویني. د بشر پالنې د چارو شریکبانو د راپور ورکولو د مودې پر مهال د شخړو له امله د ټولټال ۱۲۱۶۸۴ بې ځایه شویو کسانو لپاره د ژوند ژغورلو مرستې برابرې کړې.

۴۳. د بشری اړتیاوو په حواله، په تیره بیا په ګڼ میشتو سیمو کې، د ځان مرګي بریدونو په شمیر کې د موجوده کچې د زیاتوالي په نظر کې نیولو سره، ذهني ټکان ته پاملرنه په لومړیتوب کې ځای لري. په کندهار، کندز، ننګرهار او تخار ولایتونه کې د ذهني ټکان پاملرنې ته زیاته اړتیا لیدله کیږي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، د روغتیا د کلسټر ۱۵ شریکبانو ټولټال ۴۹۶۸۳۴ کسانو ته سلامشورې برابرې کړي د کومو ۵۶ سلنه چې ښځې او نجونې وي.

۴۴. د کرنې، اوبو لګونې او مالداري وزارت د اپریل په نیمایي کې په رسمي توګه وچکالي اعلان کړه. د کرنې اصلي فصل چې د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۸ کال تر فبروري پورې موده رانغاړي د *لا نینا هوایي اغېزې* له امله په جدي ډول د خطر سره مخ شو، چې د هیواد په ډیرو برخو کې د ۷۰ سلنې اورښت د کموالي شاهد و. په ۲۰۱۷ کال کې د غنمو د تولید کچه ۲. ۴ میلیون متریک ټنه و چې، دا په ۲۰۱۸ کا ل کې ۵. ۳ میلیون متریک ټنو ته را ټیټه شوه چې عمده لامل یې د اورښت کموالی و. د بشر پالنې د چارو شریکبانې اټکل کوي چې د هیواد دوه پر دریمه برخه به د وچکالي له امله متاثره شي او په دې سره به ۴. ۱ میلیونه هغه وګړي کوم چې خوړو، اوبو، حفظ الصحي او پاکوالي او تغذیې ته اړتیا لري په جدي توګه متاثره شي. په داسې حال کې چې په بادغیس او غور ولایتونو کې د خوړو د زیرمو د کموالي په اړه راپورنه ورکړل شوي، د وچکالي په تړاو په ځینو ولایتونو کې مهاجرتونه پیل شوي. که چیرې په وخت سره د هغوي په کلیو کې هغوي ته خواړه او اوبه و نه رسیږي، د نیم میلیون څخه زیات وګړي ښایي د خپلو کورونو پریښودو ته اړ شي. د بشر دوستانه زیرمو او موجوده سرچینو پر بنسټ، بشري ټولنه یواځې د دې توان لري چې د دوو میاشتو لپاره د ۹۰۰۰۰ خلکو لپاره د نیمه خوړو راشنونه برابر کړي. په ټوله کې، شریکبانو اټکل کړی چې ټولټال ۱۳۶ میلیونو امریکایي ډالرو ته اړتیا ده څو د شپږو میاشتو لپاره چې ممکن مهاجرتونه هم ولري ۴. ۱ میلیون وګړو ته یو جامع غبرګون برابر کړي. د هغه مقدار نږدې دوه پر دریمه برخه یواځې د خوړو د اړتیاوو د برابرولو لپاره اړینه ده.

۴۵. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، ټولټال ۲۲۰۱۲۳ افغان وګړي- د بیرته راستانه شویو راستنیدونکو، د اخراج شویو او کډوالو په شمول خپل هیواد ته راستانه شوي. د مهاجرت د نړیوال سازمان په حواله، د فبروري د نیمایي څخه د مي د میاشتې تر ۱۵ نیټې پورې، د پاکستان څخه ټولټال ۱۱۴۱۳ کډوال (۱۱۰۳۵ بیرته راستانه شوي راستنیدونکي او ۳۷۸ اخراج شوي) او د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ټولټال ۲۰۲۶۴۴ کډوال (ټولټال ۸۴۴۷۸ بیرته راستانه شوي راستنیدونکي او ۱۱۸۱۶۶ اخراج شوي) هیواد ته ستانه شوي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنر دفتر د پاکستان څخه د خپلې خوښې د راستنیدنې پروګرام د ژمني ځنډ نه وروسته د مارچ په لومړۍ نیټه بیرته پیل کړ او د ټولټال ۵۷۲۲ کسانو د راستنیدنې سره یې مرسته کړې. د دې سربیره، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنر دفتر د ایران څخه ټولټال ۳۱۱ کډوال او د نورو هیوادونو څخه ټولټال ۳۳ کډوال د راپور ورکولو د مودې پر مهال خپل هیواد ته ستانه کړي.

۴۶. د تیر کال او د ۲۰۱۴ کال د ورته کچو په پرتله، کله چې د راستنیدونکو تر ټولو ټیټ ارقام ثبت شوې، د پاکستان څخه د راستنیدونکو ټولټال شمیر ۷۵ سلنه ټیټ و. په روان کال کې د راستنیدونکو کسانو ټیټ شمیر په پاکستان کې د ښه شویو ساتندویه حالتونو او د پاکستان د فدرالي کابینې له خوا د هغې پریکړې سره تړاو لري د کومې له مخې چې یې د شناختي کارتونو موده وغځوله او په پاکستان کې یې د ټولټال ۴. ۱ میلیون افغان کډوالو

لپاره د ۲۰۱۸ کال تر جون میاشت پورې د قانوني موقتي اوسیدو زمینه برابره کړه. د پاکستان دولتي چارواکو د ۸۷۸۰۰۰ نا راجستر شویو افغانانو چا چې د ۲۰۱۷ کال د اګسټ د میاشتې راهیسې د راجستر کولو لپاره ځانونه ثبت کړي د افغان وګړو د کارتونو په صادرولو پیل کړی. یاد کارتونه د ۲۰۱۸ کال د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې د اعتبار وړ دي، د کارتونو درلودونکي مکلف دي څو افغانستان ستانه شي او له دې نه مخکې چې پاکستان ته بیا ستانه شي، د پاسپورت او د پاکستان لپاره د ویزې په شمول، د ملکي اسنادو د جوړولو لپاره په افغانستان کې ځانونه راجستر کړي. نږدې ۴۰۰۰۰۰ افغانان لاهم په پاکستان کې نه دي راجستر شوي او د خوندي چاپیریال په خرابیدو سره ممکن د اخراجیدو د ګواښ سره مخ شی.

۴۷. د فبروري د ۱۵ نه د مي د میاشتې تر ۱۵ نیټې پورې، د ټولټال ۷۰ پیښو په درلودلو سره، کومې چې د ملګرو ملتونو او د هغوي د بشر پالنې د شریکبانو چارې متاثره کوي، د بشر پالنې د چارو د لاسرسي په هکله محدودیتونو دوام موندلی. د جنوري د میاشتې راهیسې، ۱۳ مرستندویه کارکوونکي وژل شوي، نهه ټپیان شوي او ۲۱ تښتول شوي. د ۲۰۱۷ کال په پرتله، د روغتیایي پاملرنې په مرکزونو په مستقیمو وسله والو بریدونو کې زیاتوالی راغلی. په هغو سیمو کې چې سیالې رواني دي او هغه سیمې چې د دولت ضد عناصرو تر کنترول لاندې دي هغو ټولنو ته لاسرسی کومې چې مرستو ته اړتیا لري د بشري همکارانو لپاره یوه دوامداره ننګونه ده.

۴۸. سږ کال د پولیو ۷ قضیې ثبتې شوې او په اوس حال کې د پولیو د وایروس لیږد د کندهار، کنړ او ننګرهار تر پنځو ولسوالیو پورې محدود پاته شوی. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، د پولیو د واکسینونو یو سیمه ییز او د هیواد په کچه دوه کمپاینونه ترسره شوي چې موخه یې په ترتیب سره په سیمه ییزه کچه د ۶ میلیونو څخه زیاتو او د هیواد په کچه د ۹.۹ میلیونو څخه زیاتو ماشومانو تر پوښښ لاندې نیول وو. د واکسینونو د کمپاینونو مخنیوی او روانه شخړه د نه لاسرسي د مسلې په وړاندې یوه لویه اندیښنه ده، د نه لاسرسي وړ ماشومانو شمیر په فبروري میاشت کې ۶۰۰۰۰ وو ، چې دا په مارچ میاشت کې ۱۱۰۰۰۰ ته لوړ شو، په اپریل کې ۱۳۰۰۰۰ ته اوچت شو او په مي میاشت کې له نیم میلیون څخه واوښت. د واکسین لګولو دایمي ترانزیتي ټیمونو چې د نه لاسرسي وړ سیمو او مهمو ترانزیتي لارو په شاخوا کې یې موقعیت درلود هره میاشت د ۱.۱ میلیونو څخه زیات ماشومان واکسین کړیدي.

۴۹. د ملګرو ملتونو د ماین پاکي دفتر (UNMAS) د ملي پلان د ملاتړ د ماینونو د پاکولو فعالیتونه پراخ کړل او د ماینونو د خطر پر زده کړې یې پر خپل تمرکز له سره بیا کتنه وکړه. د مهاجرت د نړیوال سازمان او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر په ملاتړ، یوناما د پولو په اوږدو کې د راستنیدونکو لپاره د خطر په اړه د زده کړو او ښوونې او روزنې د برابرولو چارو ته دوام ورکړی او د ۲۰۱۸ کال په لومړنۍ ربع کې یې ټولټال ۸۴۷۶۹ نارینه وو، ښځو او ماشومانو ته زده کړې برابرې کړې. د ۲۰۱۸ کال په لومړنۍ ربع کې، د قرباني شخص په واسطه فعالیدونکي د لاس جوړ چاودیدونکي توکي چې په پخوانیو راپورونو کې "د فشار په ذریعه د لاس جوړ چاودیدونکو توکو" په حیث راجع شوي، په افغانستان کې د شخړې سره د تړلو ملکي مړینو او ژوبلو یو مخکښه لامل و. د ځمکنیو ماینونو له امله ټولټال ۲۴۷ ملکي تلفات را منځ ته شوي، د (قرباني شخص په واسطه د فعالیدونکو د لاس جوړ چاودیدونکو توکو په شمول، چې د ۲۰۱۰ کال راهیسې په افغانستان کې کاریدلي، او هغه پخواني خښ شوي پرسونل ضد ماینونه او ټانک ضد ماینونه) او د ۲۰۱۸ کال د لومړۍ ربع پر مهال د جګړې څخه پاته شوني چاودیدونکي توکي، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۵۴ سلنه کموالی ښیي. د ۲۰۱۸ کال په لومړنۍ ربع کې، د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو ۸۹ سلنه قربانیان ماشومان وو چې دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۸ سلنه زیاتوالی ښیي.

۵۰. د قرباني شخص په واسطه د فعاليدونکو د لاس جوړ چاوديدونکو توکو د شتون له امله د بشري لاسرسي د مخ پر زياتيدونکو محدوديتونو د ځوابولو په برخه کې د افغانستان د دولت سره د ملاتړ په خاطر، يوناما د ماين پاکي د همغږۍ د رياست سره په ګډه د کاري ځواک رهبري وکړه څو د دولت لپاره طرزالعملونه او روزنيزې اړتياووې تعريف کړي او دولت وکولای شي د شخړې د ښکيلو ډلو له خوا ايښودل شوې چاوديدونکي توکي په خوندي توګه له منځه يوسي او د ملکي کسانو او بشر پالنې چارو د فعالينو لپاره لا زيات لاسرسی را منځ ته کړي.

۵۱. د می تر لومړۍ نيټې پورې، په افغانستان کې بشري فعاليتونو ټولټال ۲. ۱۲۹ ميليونه امريکايي ډالر تمويل تر لاسه کړی، او د دغې مرستې له جملې څخه ۲. ۹۸ ميليونه امريکايي ډالر د هغو فعاليتونو لپاره وو چې د بشري غبرګون په پلان کې شامل وو. د مرستې لپاره د ټاکل شويو خلکو شمير ۸. ۲ ميليونه وګړي دي.

**شپږم. د مخدره توکو په وړاندې مبارزه**

۵۲. د مخدره توکو په وړاندې د مخدره موادو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر په تخنيکي ملاتړ په ۲۰۱۷ کال کې په افغانستان کې د ترياکو د کښت په اړه په مي مياشت کې يو ټولنيز اقتصادي راپور خپور کړ. راپور په افغانستان کې د اپينو د کښت د لاملونو او پايلو يو جامع تحليل وړاندې کوي. راپور د يوه ګډ پراختيايي بديل او د کوکنارو د کښت او د قانون د انفاذ د مداخلتونو په شمول، په کليوالي ټولنو کې د کوکنارو د کښت سره د مبارزې لپاره د تدبيرونو وړانديز کړی.

۵۳. حکومت، چې ملاتړ يې د نړيوالو شريکبانو لخوا کيږي، د راپور ورکولو د مودې پر مهال د مخدره موادو پر ضد عملياتو ته دوام ورکړی. د مارچ د لومړۍ نيټې څخه د اپريل تر ۳۰ نيټې پورې، د افغانستان د قانون نافذونکو چاروکو د مخدره توکو پر وړاندې ۶۱۲ عمليات ترسره کړي چې د هغو په نتيجه کې يې ۵۴۱ کيلو ګرامه هيروين، ۱۱۵۷ کيلو ګرامه اوپيم، ۳۲ کيلو ګرامه ميتامفيتامين، ۵۶۳۹ کيلو ګرامه چرس، ۲۳۹۰ ۴، ۳- ميتايلنيډوکسی ميتامفيتامين (MDMA) -K ټابليټونه، ۱۸۴ کيلو ګرامه جامد کيمياوي پيش سازه توکي او ۸۸۳ ليټره کيمياوي پيش سازه مايع توکي نيولي. د هيروئينو د توليد اته لابراتوارونه هم له منځه وړل شوي. په ټوله کې، د عملياتو په ترځ کې ټولټال ۶۸۵ تورن کسان نيول شوي او ۸۶ نقليه وسيلې، ۲۸ ميله وسلې او ۲۱۲ ګرځنده موبايلونه ضبط شوي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، د مخدره موادو سره د مبارزې په جريان کې د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې د پوليسو يو افسر وژل شوی.

**اووم. د ماموريت ملاتړ**

۵۴. د اپريل تر ۳۰ پورې، په ترتيب سره د ۱۴ سلنه او ۵، ۷ سلنه تصويب شويو ارقامو سره په پرتله کې، د ماموريت د تشو پوستونو کچه د نړيوالو کارکوونکو لپاره ۱۷ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۶ سلنه و. ماموريت ته د ځانګړو اقدامونو په ورکولو سربيره، چې موخه يې په ماموريت کې د لا زياتو داخلي ښځينه کارکوونکو استخدام او ساتل دي د ښځينه کارکوونکو تناسب لا هم ډير کم دی. د اپريل د مياشتې تر ۳۰ نيټې، په هره کټګورۍ کې د ښځو د سلنې اندازه په لاندې ډول ده: د نړيوالو کارکوونکو لپاره ۳۲ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۳۸ سلنه، د داخلي مسلکي کارکوونکو لپاره ۱۱ سلنه او د سيمه ييزې کچې د کارکوونکو لپاره ۷ سلنه. د ۲۰۱۸ کال د فبروري د لومړۍ او د اپريل د مياشتې د ۳۰ نيټو تر منځ، يوناما په ترتيب سره د سړک او هوا له لارې ۲۲۴ او ۱۳ ماموريتونه او همدارنګه د لاسرسي ۷۳۶ معکوس ماموريتونه د کومو په نتيجه کې د يوناما د ساحوي دفترونو استازو د ولسوالۍ څخه ليدنه کړې، ترسره کړي.

**اتم. ملاحظات**

۵۵. لکه څنګه چې په تیر راپور کې یادونه وشوه، د ۲۰۱۸ کال په لومړیو کې یو شمیر ظالمانه بریدونو شخړې ته د خبرو اترو له لارې یوې حل لارې ته د رسیدو په موخه کار ډیر ستونزمن او خورا اړین کړ. د کابل د کنفرانس په دوهمه ناسته کې د ملي یووالي د حکومت له خوا وړاندیز چې له شرط پرته خبرې اترې پیل شي، د وړاندې تګ لپاره یوه رغنده لاره وړاندې کړې. په پای کې، په افغانستان کې سوله باید د افغانانو له خوا او د افغانانو ترمنځ وي. په دې حواله، زه د مدني سولې د یوه ریښتینې حرکت د را څرګندیدو په واسطه خوشاله یم، په کوم کې چې د هیواد په کچه وګړي د جنګ د پای ته رسولو د ملاتړ لپاره د ځواکونو سره یوځای شوي دي. زه له ټولو اړخونو څخه غواړم چې د افغانانو غږ ته اعتنا وکړي او ورته غوږ ونیسي، او د سولې لپاره د هغوي تل پاتې هیله یوازې د جامع خبرو اترو له لارې ترسره کیدای شي.

۵۶. په داسې حال کې چې د وګړو د پام وړ سلنه د هیواد په نا امنو سیمو کې اوسي او چیرې چې د دولتي چارواکو لاسرسی محدود دی په داسې یوه چاپیریال کې د یوې جامع او اتبار لرونکې پروسې یقیني کول په خپل ذات کې یوه بنسټیزه ننګونه ده. په ټولو پړاونو کې د ټاکنو سوله ییز ترسره کول مهم دي څو خلک وکولای شي د ډار او یا امنیتي ګواښ پرته د راي ورکولو خپل حق وکاروی. د هغو تاکتیکونو ، د بیلګې په توګه، د ټاکنو په اړوندو مرکزونو د بریدونو، د ټاکنیزو کارکوونکو د تښتونو او ګواښونو او د ثبت شویو رای ورکونکو د ځورولو په شمول، د خشونت څخه د ډکو وسیلو له لارې د ټاکنیزې پروسې د مخنیوي لپاره رواني هڅې د اندیښنې وړ دي. زه په کابل کې د اپریل په ۲۲، د راجستر کولو په مرکز او د خوست په ولایت کې د مي په ۶، د رای ورکونکو د ثبتولو په مرکز د ځانمرګو بریدونو، د کومو په نتیجه کې چې لسګونو کسانو ته تلفات واوښتل، غندنه کوم. د هغه مستقیم زیان پرته چې دا ډول بریدونه یې ملکیانو ته اړوي، دا ډول بریدونه د وګړو د رای ورکولو په اساسي حق برید دی. هغه ژمنه او جرئت چې د افغانستان د خلکو له خوا ننداري ته وړاندې شوی او چا چې د دې ډول ګواښونو سربیره د رای ورکونکو په حیث ځانونه راجستر کړي، یو خوشاله کونکی خبر دی. زه د شخړې په ټولو ډلو غږ کوم تر څو د افغانانو اساسي حقونو ته درناوی وکړي او د ټاکنو ترسره کیدو ته چې د دوي د جرئت سزاوار دي، زمینه برابره کړي.

۵۷. د ټاکنیزو تیاریانو په لړ کې عملیاتي ننګونو دوام درلود. پداسې حال کې چې د ټولټاکنو په پروسه کې د خلکو باور کمزوری کوي، د ټاکنیزو مسایلو په اړه په ځنډ سره د پریکړو نیول او اوږده بحثونه، پارلماني او د ولسوالیو د شورا ګانو د ټاکنو لپاره مهالویش د ځنډ د خطر سره مخامخوي. زه د ټاکنیز مدیریت اداري هڅوم څو د تصمیم نیولو بهیرونو ته وده ورکړي، په چټکې سره اړینې پریکړې ونیسي او د نورو ادارو او مدني ټولنو سره د ټولټاکنو د چمتووالي په ټولو برخو کې همغږی پیاوړې کړي. له هغه سیوا چې افغانانو ته په ټاکنو کې د هغوي د خوښې پارلماني او د ولسوالیو د شورا ګانو د استازو په ټاکلو کې اجازه ورکوي، اعتبار لرونکې او جامع ټاکنې د افغانستان په روان دیموکراتیک ټینګښت کې یو مهم ګام ګڼل کیدای شي. د دې لپاره چې د افغانستان د ټاکنیزو ادارو پایښت یقیني شي، مهمه ده د ټاکنیز مدیریت د ادارو خپلواکۍ ته درناوی وشي.

۵۸. په افغانستان کې تقسیم شوی سیاسي چاپیریال نه یوازې د راتلونکو ټاکنو لپاره، بلکه په ټوله کې د حکومتولۍ او پخلاینې لپاره هم یوه بله ننګونه ده. د اعتماد وړ ټاکنو د ترسره کولو او د سولې د پروسې د پرمختګ لپاره سیاسي اراده او یووالی خورا اړین دي. په یادو برخو کې پرمختګ کیدای شي د اړینو اصلاحاتو د را منځ ته کولو لپاره هم لار هواره کړي. زه په ټولو افغان سیاسي فعالانو غږ کوم څو د موخې د عامیت او د دغو مهمو پروسو د بریالیتوب لپاره د هڅو د یو ځای کیدو څخه ډاډ حاصل کړي.

۵۹. شخړه لا هم افغان وګړو ته د نه منلو وړ تلفات اړوي. زه د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو تبعیه شویو چاودیدونکو توکو د بې توپیره کارولو له امله د ملکي تلفات د دوامداره زیاتوالي په اړه په کلکه اندیښمن یم. دغه تاکتیک اوس د ملکي تلفاتو په یوه مخکښه لامل اوښتی، د ۲۰۱۸ کال په اوله ربع کې، د دغه تاکتیک په نتیجه

کې را منځ ته شوي تلفات د هغه څه څخه لوړ و چې د ځمکنیو نښتو پرمهال د ټولو ډلو له خوا را منځ ته شوي. زه په اندیښنې سره یادونه کوم چې، د دولت ضد عناصرو له خوا د بریدونو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو شمیر چې په عمدي توګه ملکي کسان په نښه کوي د ۲۰۱۷ کال د لومړۍ ربع د ورته مودې په پرتله د دوو برابرو څخه زیات و او په دولت ضد عناصرو غبر کوم څو په چتکه توګه د ځان وژونکو چاودیدونکو توکو بې توپیره کارول ودروي. په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې د اندیښنې وړ رجحاناتو سره مطابق، دولت ضد عناصرو د لږکیو شعیه مسلمانانو په وړاندې د مستقیمو بریدونو ترسره کولو ته دوام ورکړ چې په نتیجه کې یې ۱۵۴ ملکي تلفات را منځ ته شول، دا بریدونو تر ډیره ځانمرګي او ډله ییز بریدونه و چې مسولیت یې د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان څانګې منلی. د نړیوالو بشر دوستانه حقونو او بشر دوستانه قانون له مخې د ملکي تلفاتو څخه د مخنیوي لپاره د ټولو اړخونو د مکلفیتونو په یادولو سره، زه د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوم چې د ملکي اهدافو په وړاندې دغه ظالمانه بریدونه ودروي.

۶۰. په ټولنیزو اقتصادي، سیاسي، سولې او امنیتي بهیرونو کې د ښځو د معقول ګډون د یقیني کولو په خاطر د تاوتریخوالی څخه د ښځو ساتنه او احتساب ته د مرتکبینو راکښول اړین دي. دولت او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ښځو په وړاندې په منظم ډول د تاوتریخوالي د جرمونو په اړه د کورنیو قوانینو د پلي کولو نظارت کوي. زه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه د ملي تګلارې او عمل پلان بشپړ تطبیق، او همدارنګه د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو په اړه کمیټې ته د دولت د دریم دوره یي راپور نهایي کول هڅوم، دا ټولې چارې به د ښځو د حقونو او ژوند د خوندیتوب په هدف د هغوی د ژمنو په اړه یو مهم اثبات وړاندي کړي.

۶۱. د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي څخه ډک چلند یا سزا په وړاندې د کنوانسیون د اختیاري پروتوکول په الحاق سره، دولت د بشري حقونو د شورا د غړیتوب لپاره د خپلې کاندیدۍ په ملاتړ کې د نیول شویو رضاکارانه ژمنو له جملې څخه یوه هغه پوره کړه. ملګري ملتونه چمتو دي ترڅو د شکنجې د له منځه وړلو لپاره د یوه ملي مخه نیونکي میکانیزم د را منځ ته کولو په برخه کې لازم تخنیکي ملاتړ برابر کړي. د کنوانسیون په تړاو له خپلو ملحوظاتو څخه له تیریدو وروسته، افغانستان اوس د شکنجې په وړاندې د کمیسیون وړتیا مني څو په خپل قلمرو کې د شکنجې د سیستماتیکي کاروني په تړاو د ادعاوو په اړه محرم تحقیقات ترسره کړي. ملګري ملتونه به په هغو توقیف ځایونو کې چې چارې یې د افغانستان د دولت له خوا پر مخ وړل کیږي د افغانستان سره د خپلو هڅو چې موخه یې د شکنجې له منځه وړل دي مرستې ته دوام ورکړي.

۶۲. د شخړو د ښکیلو ډلو لخوا د ماشومانو زیات استخدام او کارول د راپور ورکولو د پخوانۍ مودې په پرتله دری برابره زیات شوی او دا د جدي اندیښنې وړ ده. د ماشومانو استخدام او کارول د هغو شپږو جدي سرغړونو له جملې څخه یو دی کومه چې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د امنیت شورا لخوا پیژندل شوي، زه د شخړې له ټولو خواوو څخه غوښتنه کوم چې د ماشومانو استخدام او کارولو ته په سمدستي توګه د پاي ټکی کیږدي او د دولت څخه غواړم څو داسې لازم اقدامونه اتخاذ کړي څو د قربانیانو لپاره د راجع کولو او بیا رغاونې میکانیزمونو را منځ ته کړي.

۶۳. د افغانستان دولت د مهمو اصلاحاتو تعقیب ته دوام ورکړی. معلوماتو ته د لاسرسي د قانون ترویج، کوم چې د معلوماتو د ورکونکو لپاره اضافي تحفظ لري، د احتساب وړ حکومتولۍ د ودې لپاره یو ښه ګام وړاندې کوي. په داسې حال کې چې دولت د فساد په وړاندې خپله تګلاره پلې کوي، د سیمه ییزو ادارو، مدنې ټولنې او نړیوالو شریکانو سره رغوونکې دوامداره ښکیلتیاووې مهمې دي، په افغانستان کې د فساد سره مبارزه به د ټولو شریکانو متمرکزو او پایښت لرونکو هڅو ته اړتیا ولري. د فساد په وړاندې د یوناما د راپور د سپارښتنو سره په سمون کې، د

فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو د کنوانسیون د تطبیق په اړه د لاربشود سره په سمون کې، زه دولت د فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو د موسساتي کولو په هدف د لا نورو اقدامونو ترسره کولو ته هڅوم.

۶۴. زه په افغانستان کې د رواني وچکالۍ په اړه چې بشري وضعیت یې تشدید کړی، ژوره اندیښنه لرم . د کر کیلي په موسم کې د کم اورښت له امله اوس د نږدې دوو میلیونو څخه د زیاتو انسانانو ژوند او بقا چې په کرنه پورې تړاو لري، د ګواښ سره مخ دی. د وچکالي له امله مهاجرتونه لا د مخه راپور شوي او که چیرې د هغوي په کلیو کې هغوي ته په وخت سره مناسب خواړه او د څښاک اوبه و نه رسیږي نو ښایې د نیم میلیون څخه زیات کسان بې ځایه شي. لکه څنګه چې بشر دوستانه همکاران د ۴. ۱ میلیونو څخه د زیاتو ډیرو زیان منونکو خلکو لپاره خپلې مرستې زیاتوي، زه په تمویل کونکو غږ کوم څو د ملګرو ملتونو له خوا د ۱۳۷ میلیون اضافي امریکایي ډالرو عاجلې غوښتنې ته ځواب ووایي څو د وچکالي ځپلو خلکو بنسټیزې اړتیاووې پوره کړي.

۶۵. ملګري ملتونه د افغانستان او د افغانستان د حکومت سره د خپلو پیاوړو او تلپاتې اړیکو د ساتلو لپاره ژمن دي. په داسې حال کې د ملګرو ملتونو نړیوالي موخې منعکسوي، د ملګرو ملتونو واحد چوکاټ چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیستم له خوا را منځ ته شوی، خپل کار د دولت د لومړیتوبونو سره په نږدې سمون کې راولي. زه د ملګرو ملتونو د ادارو، وجهي صندوقونونو او پروګرامونو د قوې ژمنې ستاینه کوم چې د ځایي ادارو سره خپلې نږدې همکارۍ ته دوام ورکوي ترڅو ټولو افغانانو ته د خدمت رسولو کیفیت لوړ کړي.

۶۶. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي د مشر تدامیچي یاماموتو څخه د ننګونو څخه د ډکو داسې شرایطو لاندې د هغوي د دوامداره تعهد لپاره چې موخه یې د افغانانو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.